مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: سراج الحق ببرک زی خدراڼ ۲۰۲۱/۰۲/۱۴

# د جرمونو نړیوالې محکمې لوی څارنوال وټاکل شو



کله چې د جرمونو نړیواله محکمه په افغانستان کې د جنګي جرایمو په اړه پر نړیوال کچ یوه منصفلنه ازاده پریکړه وکړي، دا به د نړیوال قضایی عدالت، د انساني حقونو او د بشریت یوه ستره تاریخي بریا وي.
د جرمونو نړیوالي محکمې غړو انګریز حقوقپوه کریم خان د جرمونو نړیوالې محکمې څارنوال ټاکلي دی. هغه چې هر څومره زر خپل کاري دفتر ته لاړ شي، د بشري حقونو وکیل به سختي پریکړې وکړي. کیدای شي هغه د خپل کاري دندې په موده کې د اسراییل او متحده ایالاتو د پوځیانو په وړاندې د جرمونو نړیواله محکمه دایره کړي.
بریتانوی کریم خان د جرمونو نړیوالې محکمې نوی څارنوال په داسي حال کې ټاکل شو، چې په نیویارک د 132 هیوادونو استازو د اوږدې خبرو اترو او بحثونو ورسته د هغه په اړه دا پریکړه وکړه.
د لومړۍ ځل لپاره د جرمونو نړیوالې محکمې د غړو دولتونو استازې په دې ونه توانیدل، چې په یوه نوماند باندې په ګډه هوکړې ته سره ورسیږي. په دې ورستیو کې د دې مهمې دندې د ټاکنو لپاره څلور نوماندان ولاړ وو. خان په دویم پړاو کې د 72 رائیو په تر لاسه کولو سره وټاکل شو. د ایرلنډ حقوقپوه ښاغلی فیرګل ګینور 54 رائې ترلاسه کړي.
دغه نوی لوی څارنوال د دې محکمې لپاره دنده په یوه خورا حساس وخت کې په غاړه اخلي. دغه محکمه په فلسطین او افغانستان کې د تر سره شویو جنګي جرمونو په اړه د پلانو شویو پلټنو او څیړنو له امله تر لوی سیاسي فشار لاندې ده. دا محکمه کولي شي د اسراییل یا متحده ایالاتو د پوځي پرسونل په وړاندې قضایي دعواې هم پیل کړي.
د متحده ایالاتو پخواني ولسمشر ډونالډ ټرمپ د امریکایې وګړو په وړاندې د احتمالي پلټنو لپاره د جرمونو نړیوالې محکمې په څارنوالانو باندې یو شمیر بندیرونه لګولي وو. ټرمپ د جرمونو نړیواله محکمه د امریکا امنیت او بهرنۍ سیاست ته یو فوق العاده ګواښ ګڼلي وه. ټرمپ یو اجرائیه فرمان صادر کړي و، چې له مخې یې د جرمونو نړیوالې محکمې پر کارکوونکو اقتصادي او ډیپلوماتیک بندیزونه او امریکا ته په سفر کولو محدویتونه لګولي و. په هر صورت چې و، د نیویارک یوې محکمې د پلټونکو سفر او پلټنې منع کړي وې.
خان د یو مخکښ نوماند په توګه ټاکنو ته دریدلي و. خان وسمهال د ملګرو ملتونو په استازیتوب په عراق کې د اسلامي دولت یا د داعیش جهادي ترهګري ډلې د جنګي جرمونو د پلټنو کمیسیون مشري کوي. هغه د نازی جرمني د جنګي مجرمینو پر وړاندې د نورنبرګ د محاکمې په څېر او په بنسټ د یوې محکمې غوښتنه کړي وه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څېر و لولئ

خان د لیبیا د پخوانی واکمن معمر القذافي زوی سیف الاسلام مدافع وکیل هم پاتې شوي و. هغه په نړیوال جرمي قانون کې د یوه څارنوال په توګه، د جرمونو نړیواله محکمه کې او په نړیوالو جنایي محکمو کې د مدافع وکیل په توګه د سترې عالي نړیوالي تجربې خاوند پېژندل کیږي. د جرمونو نړیوالي محکمې کتونکي، څېړونکي او کارپوهان خان د یو لوی وکیل او په ویرونکې ډول یو هوښیار، څېرک ستراتیجسټ ماسټر په توګه تشرح کوي یا پیژني. کریم خان د نهه کلني دورې لپاره وټاکل شو.

کریم خان د ګمبیا هیواد شپیته کلنه لویه څارنواله میرمن فاتو بېنسودا ځایناستي کیږي. هغه نهه کاله ورسته د جون په میاشت کې له خپلې دندې لیدي کیږي. د دې نوی لوی څارنوال لومړې پرېکړې به څه وي. ؟

د بېنسو د خپلې کارې دندې په موده کې د واشنګټن غوسه راوپاروله. د سپتمبر په پیل کې د متحده ایالاتو حکومت په افغانستان کې د احتمالي جنګي جرمونو لپاره د متحده ایالاتو سرتیرو پر وړاندې د تحقیقاتو په لړ کې د دوی او قضایه قوې په وړاندې او د بشپړتیا او همکاري څانګې مشر په وړاندې بندیزونه اعلان کړل.

د جرمونو نړیوالي محکمې لوی څارنوال یوازې یو ځلې د یوې مودې لپاره ټاکل کیږي.

په 2002 کال کې د جرمونو نړیوالي محکمې بنسټ ایښودل شوي دي. د هالنډ په ډن هاګ کې مېشته د جنګي جرمونو نړیواله محکمه د بشریت په وړاندې جرمونه او د توکمې وژنو یا جینوسایډ جرمونو پلټني او محاکمې کوي.

د امریکا متحده ایالات، روسیه، اسراییل او د چین دولتونه د جنګي جرمونو نړیواله محکمه په رسمیت نه پیژني. د جرمونو نړیواله محکمه باندې سختې نیوکې کیږي، چې دغې نړیواله محکمه د خپلو پلټنو ټول پام د افریقا بیوزلو، غریبو او کمزور دولتونو یا هیوادونو ته اړولي دی.

د جرمونو نړیواله محکمه باید په افغانستان کې د جنګي جرایمو ادعاوې وڅېړي او په افغانستان کې د امریکا متحده ایالاتو او د نور جنګي ډلو نه بېښوونکې جنګي او د بشریت ضد جرایم پر نړوال کچ د جرمونو په نړیوالي محکمه کې وڅیړلي، څو په افغانستان کې قضایي عدالت پلي شي او تلپاتې سوله راشي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ